مسير
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۲۶مه | د ۲۰۲۱ د جون ۱۶مه | ۷۳۴مه ګڼه

# د افغان پلاوي له حضور پرته د ناټو سرمشریزه ؛

## ستولټنبرګ: د نظامي حضور له پای ته رسېدو وروسته هم له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکوو




۳

### د ناټو غونډه او په افغانستان کې د جګړې د دوام پیغام
۲ مخ


### د کابل په لوېدیځ کې د وروستیو بریدونو موخي څه دي؟
۲ مخ

### پردیو ته له زاریو څخه خپلو ته انعطاف بنه دی
۳ مخ

## اردوغان: پاکستان دې د حامد کرزي نړیوال هوايي ډګر د امنیت په خوندیتوب کې راسره مرسته وکړي

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د کابل هوايي ډګر د امنیت ساتلو لپاره له امریکا څخه ډیپلوماتیکې، لوجیستکي او مالي مرستې غواړي.
اردوغان په بروکسل کې د ناټو د ځینو مشرانو سره له ملاقاتونو وروسته خبریالانو ته ویلي، چې د افغانستان په اړه یې امریکا ته خپل نظر څرګند کړی دی. اردوغان زیاته کړې: «ما د افغانستان په اړه ښاغلي بایډن ته خپل نظر څرګند کړی. که هغوی نه غواړي چې موږ له افغانستان څخه ووځو، که هغوی هلته د ترکیې مرسته غواړي، بیا نو هغه لوجیستکي، مالي او ډیپلوماتیکي مرستې چې امریکا به یې راته برابروي، ډېرې مهمې وي.»
اردوغان په دې برخه کې د پاکستان د رول یادونه هم کړې او زیاتوي: «بله مسئله دا ده چې موږ په دې اړه هم خپل نظر څرګند کړی چې له موږ سره به پاکستان او هنګري هم په افغانستان کې وي.»
که څه هم افغان حکومت د ترکیې د ولسمشر د دغو څرګندونو په اړه تر اوسه څه نه دي ویلي، خو په پاکستان باندې تل نیوکه کوي، چې په خپله خاوره کې طالبان ساتي، پالي، روزي او بیا یې افغانستان ته د جګړې لپاره استوي. اسلام اباد بیا دا تورونه نه مني.
اردغان دا هم ویلي چې د طالبانو واقعیت د هېرولو نه دی او له طالبانو سره به هم په دې اړه خبرې کوي، خو طالبانو وار دمخه د ترکیې له پاتې کېدو سره مخالفت کړی او ویلي دي چې له امریکا سره د شوې هوکړې پر اساس باید ترکي عسکر هم له افغانستان څخه ووځي.

## امریکایي سناتوران: د دوحې تړون تر عملي کېدو دې یوه ډله امریکایي پوځیان په افغانستان کې پاتې شي




۲ مخ

## تعمیر فروشی




یک تعمیر تجارتی به مساحت {316.25 متر مربع} واقع مارکیت میوه {ناحیه 4، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802


## کتاب
۴ مخ

### ستاسې ماشوم هم بریالی کېدای شي




پر ځان باور درلودل د انسان په ژوند کې یو له مهمو او اصلي مسایلو څخه دي او د ماشومانو په ژوند کې د ځانګړي ارزښت درلودونکی دی. کوښښ وکړئ چې ماشومانو ته مو پر ځان د باورۍ حس ورکړئ.

## رستمي: په هېواد کې د ځمکنیو توتانو کلني حاصلات نږدې ۳۰۰ متریک ټنو ته رسېږي



د کرنې او مالدارۍ وزارت ویاند اکبر رستمي وايي چې روان کال په هېواد کې په ټولیز ډول د ځمکنیو توتانو د حاصلاتو کچه نږدې ۳۰۰ متریک ټنو ته رسېږي. نوموړی زیاتوي: «روان کال په ډېری ولایتونو کې د ځمکنیو توتانو حاصلات زیات شوي، ټولیز تولید یې نږدې ۳۰۰ متریک ټنو ته رسېدلی چې ډېر یې په کابل، بلخ، ننګرهار، هرات، پروان او ځینو نورو ولایتونو کې شوي دي.»
د نوموړي په وینا، روان کال په ټول افغانستان کې په ۳۲۰ جریبه ځمکه کې ځمکني توتان کرل شوي او ورځ تر بلې یې د کښت ساحه نوره هم پراخېږي. بلخوا بزګران وايي چې افغانستان د ځمکني توتانو کرکېلې او پالنې لپاره مناسبه هوا لري او په دې وروستیو کلونو کې د خلکو ترمنځ د دې مېوې کرکېله او پالنه دود شوې ده.
دوی وايي، چې د نورو کرنیزو توکو په پرتله د ځمکنیو توتانو د کرکېلې وخت او لګښت کم، خو حاصلات یې د پام وړ ډېر دي.

## وزارت صحت عامه: در ۲۴ ساعت گذشته ۷۸ تن بیماران ویروس کرونا جان باختند



برنبیاد آماری‌های وزارت صحت عامه ۷۸ تن از بیماران ویروس کرونا، در ۲۴ ساعت گذشته در کشور جان باختند و نزدیک به یک هزار و ٦٥٠تن دیگر به این ویروس مبتلا شده اند.
در همین حال، شماری از بیماران داران در شفاخانه علی جناح کمبود آکسیجن را جدی ترین مشکل در شفاخانه‌های شهر کابل میدانند و می‌گویند که به همین علت، شفاخانه‌ها بیمارانی را که سن شان، بیشتر از پنجاه سال است، بستری نمی کنند.
امین الله، همسر یک بیمار کووید-۱۹ در شفاخانه علی جناح گفت:«گفت که آکسیجن پیدا کن، گفت که اکسیجن دیگه نیست امکانات دیگه نیست.»
در همین حال، یک بیمار دار دیگر که ویروس کرونا جان پدرش را گرفته است، نگران جان مادربیمارش است که اگر آکسیجن کافی برایش نرسد، زنده گیش با خطر روبه رو خواهد شد.
او گفت:«در بازار سیاه یک بالون که بیست کیلو وزنش باشد و یک نیم ساعت بیمار را بس کند، تا چهارده هزار - شانزده هزار قیمتش است.»
داکتران شفاخانه علی جناح کمبود آکسیجن را می پذیرند اما از کمبود امکانات شان سخن می زنند.
فیروز، یک داکتر در شفاخانه علی جناح گفت:«سیزده تا پایپ آکسیجن ما داریم تا این جا که میرسد فقط همینقدر زورش میرسد تا پنج لیتر بالا نمی رود.»

سرلیکنه

## د ناټو غونډه او په افغانستان کې د جګړې د دوام پیغام

د ناټو په وروستۍ سرمشریزه کې پر افغانستان بحث شوی او پرېکړه شوې چې ناټو به د ځواکونو له وتلو وروسته له افغانستان سره مرستو دوام ورکوي. د افغان امنیتي ځواکونو ملاتړ، په بهر کې د هغوی روزنه، دایمي ملکي حضور او په کابل کې د هوایي ډګر او تاسیساتو ساتل د ناټو د مرستو اساسي ټکي ګڼل شوي دي. د امریکا ولسمشر جو بایډن هم ویلي چې له افغانستان څخه د ځواکونو له وتلو وروسته به هم په دې هېواد کې له ترهګرۍ سره مبارزه جاري ساتي، څو ډاډه شي چې دا هېواد یو ځل بیا هغسې د ترهګرو پر خوندي پټنځای بدل نه شي چې پر امریکا برید وکړي.

د ناټو په غونډه کې د افغانستان په تړاو بحث ښايي ډېرو ته په ظاهره مثبت ټکي ولري. د افغان امنیتي ځواکونو د تمویل او روزنې دوام به هغه اندېښنې کمې کړي چې ګواکې د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته نظام او امنیتي ځواکونه پاشل کېدای شي. د ناټو نورې خبرې چې له افغانستان سره به ډیپلوماتیکې اړیکې دوام کوي، مالي مرستې به هم وي، هوایي ډګر به هم ساتل کېږي او افغانستان به سقوط ته نه پرېښودل کېږي. دا او دې ته ورته خبرې ټولې په ظاهره مثبتې دي، خو په واقعیت کې یو بد پیغام لېږدوي. دا پیغام د جګړې د دوام پیغام دی. په تېرو شلو کلونو کې هم مرستې او ملاتړ تر دې زیات وو، خو جنګ و. اوس به بیا هم ښايي دا مرستې وي، البته ډېر کمې به پکې راشي، خو جګړه به وي. څه ډول چې په تېرو شلو کلونو کې دغو مرستو، ملاتړ او تګلارو د جګړې مخه ونه نیوله او امن یې را نه وست، دغسې به په همغه کچه او یا تر هغه کم ددې مرستو او ملاتړ دوام نه جګړه ختمه کړي او نه به هم امن راولي.

له همدې امله د ناټو د غونډې پیغام دا دی چې په افغانستان کې به بیا هم جګړه وي، دوی به ددې لپاره چې یو اړخ بریالی نه شي، بل اړخ ته به مالي مرستې ورکوي، د ځواکونو روزنه به یې کوي، اړیکې به ورسره ساتي او نه به پرېږدي چې سقوط وکړي. په دې ډول به د جګړې د دواړو لورو انډول برابر وي، جګړه به دوام کوي، افغانان به وژل کېږي، کورونه به ورانیږي او جګړه به غځېږي. دا حالت به یو لورې په دې توجیه کوي چې ګواکې موږ د افغانستان د خلکو له حقونو، جمهوریت او حاکمیت دفاع کوو او نړیوال ملاتړ هم لرو، خو بل لورې به همدا جمهوریت د اشغالګرو پاتې شونې ګڼي او بهرنۍ ملاتړ به یې د پردیو ملاتړ ګڼي او په دې ډول به جګړه توجیه کوي. له بده مرغه بهرنیانو او په ځانګړې ډول ناټو او امریکا موږ ته تل په خوړو کې ترخه را کړې دي او وروستۍ پرېکړه یې هم همدا ده چې دلته باید جګړه وي، ځکه چې دوی ته ګواښ پېښ نه شي. که دوی رښتیا د افغانانو ملاتړي وي، نو لاره یې دا نه ده چې دوی د یو اړخ ملاتړ وکړي، بلکې لاره یې دا ده چې دوی د سولې لپاره کار وکړي. دوی باید له خپله اړخه جګړه ودروي، د سولې لپاره فشار راوړي، د افغانستان جګړهغوښتونګي سیمهییز او ګاونډي هېوادونه مجبور کړي چې د سولې ملاتړ وکړي. که دوی د سولې پیغام ورکړي، کار ورته وکړي، نو په دې ډول به دلته جګړه ختمه وي، دوی به اړ نه وي چې ځواکونه ورزوي او یا هم زموږ تاسیسات وساتي او زموږ سره دا ډول مرستې وکړي.

# د کابل په لوېدیځ کې د وروستیو بریدونو موخې څه دي؟

لیکنه: هیواد ځاځی

په تېرو شلو کلونو کې پر افغان ولس تپل شوې حاکمې جګړې د افغان وطن هېڅ برخه بې زیانه پرې نه ښوده، خو دا جګړه له بده مرغه په سیستماتیکه توګه ډېره د پښتنو په سیمه کې روانه وه او ده. د دې تېر ماشومان ښوونځي ته له تګ بې برخې شول، ښوونځي ترې جګړې وران کړل، روغتیایي خدمات ترې جګړې واخیستل، له هر ډول ټولنیز پرمختګ، اقتصادي ودې او مدنې حقونو جګړې محروم او د دوی سیمه د بهرنیو ځواکونو د پرمختللو وسلو د ازمویلو اله وګرځېده؛ خو هېچا دې جګړې ته د محرومیت له خدماتو د پاتې والي او په سیستماتیک ډول د دوی جغرافیه د جګړې لپاره د ټاکلو نوم ورنه کړ، هیڅ کورنۍ او نړیوال خواخوږي پیدا نه شو چې دا جرئت وکړي. موږ د دې وطن د هر وګړي په درد دردېږو او په غم یې ځان شریک بولو، موږ د روانې خونړۍ جګړې هر قرباني ته د افغان قرباني په سترګه ګورو. دا جنګ د ټول افغان ولس پر وړاندې جنګ بولو، ځکه بې توپیره راخخه قربانۍ اخلي. خو ولې ځینو بهرنیو هیوادونو او سازمانونو وروستیو بریدونو ته د یو قوم د نسل وژنې نوم ورکړ؟

موږ له یوي استخباراتي جګړې سره مخ یو، چې نړیوال او سیمه ییز لوبغاړي پکې ښکېل دي. د کابل په لوېدیځ کې پر هزاره وګړو وروستي بریدونه د هغو استخباراتي لوبغاړو کار دی، چې په هیواد کې د مېشتو قومونو تر منځ د یووالي زیانمنېدو ته مامور شوي دي. دوی په دې ډول غواړي چې د هزاره ګانو په منځ کې د محرومیت او مظلومیت انګېزه پیاوړې او د غچ اخیستو احساسات یې را وپاروي. په دې توګه به د تېر په څیر او له هغه هم په خونړۍ توګه افغانستان قومي او سمتي جګړو ته ټېل وهل شي.

له بده مرغه اروپایي ټولنه او امریکایان هم یاد اور ته د پوکي وهلو نیت لري. دوی هم د جګړې ګرمېدو که ګټې خوندي کړې دي، بهرنیان غواړي چې له افغانستان څخه د دوی له نظامي وتلو وروسته د دوی د استخباراتي پایښت لپاره داخلي جګړې دوام ولري، په دې برخه کې دوی وار له مخې په ځینو قومي حقخورو پانګه اچونه کړې څو یاد ماموریت په پوره ځواک پر مخ یوسي او یادې موضوع ته قومي بڼه ورکړي. حال دا چې دا دې یوه قوم نسل وژنه نه؛ بلکې دا د افغان نسل وژنې د لړۍ دوام دی چې تېر شل کاله روانه ده. خو اوس په دې حساس وخت کې دې دا ډول بریدونو د ډېرېدو یو ځانګړی هدف هم همدا دی، چې یادو بریدونو ته د یوه قوم د جینو سایټ نوم ورکړي.

زموږ غوښتنه دا ده چې افغان حکومت چې هر څومره په قوت او ځواک کولی شي د یادو خونړیو پېښو مخنیوی دې وکړي، څو خدای مه کړه هیواد مو د جګړې یوې بلې خونړۍ دورې ته دننه نشي.

له ټولو هزاره سیاستوالو، مذهبي مشرانو او قومي مخورو مو هیله دا ده، چې یادو خطرونو او استخباراتي لوبو ته په ډېره ځیرکتیا د ولسي احساساتو د مدیریت او د یادو بریدونو د اهدافو او موخو په اړه ولس ته د عامه پوهاوي په برخه کې خپل واقعي مسوولیت ادا او له یوه بل خطرناک حالته په مخنیوي کې د خپل قوم او افغانستان په ژغورنه کې مرسته وکړي.

# کډوالو چارو وزارت: په تېرو دریو میاشتو کې د جګړو له کبله ۱۸زره کورنۍ بې ځایه شوي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت وایي، په تېرو دریو میاشتو کې نږدې ۱۸ زره کورنۍ د جګړو له کبله په کور دننه له خپلو سیمو بېځایه شوې دي.

د دغه وزارت ویاند عبدالباسط انصاري وایي: «زموږ لومړیتوب دا دی، څو له هغو کسانو سره چې ډېر اړ دي، د کډوالو چارو او نورو مرستندویه بنسټونو لهخوا مرسته وشي. دا بېځایه شوي ډېری یې د لغمان، تخار، هرات، بغلان، کندز، فراه، کندهار، ننګرهار او یو شمېر نورو ولایتونو دي چې خپل کورونهیې پرېښي او امنو سیمو ته تللي دي.»

په ورته مهال د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنري ورځ تر بلې د بېځایه کېدونکو په اړه اندېښنه ښودلې. دغه سازمان وایي، چې ۴،۸ میلیون افغانان په کور دننه بېځایه شوي او ۲،۵ میلیونه نورو هېوادونو ته کډوال شوي دي.


د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنري د بېځایه کېدو او کډوالۍ اصلي لامل جګړه ښيي. د دغه سازمان رییس فیلیپو ګراندي د جګړې له امله د بېځایه کېدونکو افغانانو په اړه اندېښنه ښودلې ده. نوموړي زیاتوي: «هغه څه چې موږ وروستیو څو کلونو کې ولیدل، د تاوتریخوالي زیاتېدل دي. موږ پر مؤسساتو او نړیوالو بنسټونو لکه هلو ترسټ د بریدونو شاهد وو، هغوی چې د انسانانو د ژغورنې لپاره سخت او بنسټیز کارونه کوي. ډېری خلک د قومي اړیکو له مخې وژل شوي او دا د تاوتریخوالي ډېره اندېښمنوونکې برخه ده چې شاید بیا افغانستان کې پیل شي. د بهرنیو عسکرو له وتو وروسته، کېدای شي دا وضعیت لا خراب شي. له همدې امله موږ په افغانستان کې دننه د یوه داسې پلان پر جوړولو کار کوو چې خلک د وضعیت له خرابېدو سره، له پولو تېر شي او ګاونډیو هېوادونو ته کډوال شي.»

ګراندي وایي، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنري اوس د دې لپاره چمتووالی نیسي چې د بهرنیو عسکرو له وتلو وروسته، له بېځایه شویو او کډوالو سره څه ډول مرسته وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ملګرو ملتونو شمېرې ښيي، چې ۱۸،۴ میلیونه افغانان چې د دغه هېواد نږدې نیمايي نفوس جوړوي، بېړنیو بشري مرستو ته اړتیا لري. امریکا هم د روان میلادي کال په لومړیو کې وویل، له افغانستان سره به په بشري برخه کې ۲٦٦ میلیون ډالره مرسته وکړي. له دې ټولو مرستو سره سره، ډېری دغه بېځایه شوي د جګړې پای د خپلو ستونزو یوازینی حل بولي.



# امریکايي سناتوران: د دوحې تړون تر عملي کېدو دې یوه ډله امریکايي پوځیان په افغانستان کې پاتې شي



وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې د یو امریکايي سناتور جېمز اینهوف یوه مقاله خپره کړې ده. په مقاله کې راغلي چې د امریکا ولسمشر جو بایډن له افغانستان څخه د ځواکونو ایستلو کې بېړه کړې او په خبره یې، دا یوه سیاسي پرېکړه ده.

نوموړي زیاته کړې، بایډن وضعیت ته له پام پرته دا پرېکړه کړې او د بدو عواقبو پړه به هم خپله د ده پر غاړه وي. اینهوف وایي، د بایډن اداري په وارخطايي سره دا وښوده چې دوی دوې لارې لري، یا په بشپړه توګه د ځواکونو وتل او یا تر نامعلومې نېټې په دغه هېواد کې پاتې کېدل. نوموړي دریېمه او معقوله لاره دا بللې چې باید د دوحې هوکړې تر عملي کېدو پورې یوه ډله امریکايي پوځیان په افغانستان کې حضور ولري. دغه سناتور دغه راز د افغانستان اوسنی وضعیت اندېښمنوونکی بللی او ټینګار یې کړی چې بایډن باید پر خپله پرېکړه له سره غور وکړي.

که څه هم د امریکا او طالبانو ترمنځ د دوحې له تړون وروسته تمه دا وه چې په افغانستان کې به د روانې جګړې شدت راکم شي، خو د میاشتو په تېرېدو سره نه یوازې دا چې جګړې نورې هم شدیدې شوې، بلکې د سولې خبرې هم له نامعلوم برخلیک سره مخ دي.

له دې سره جوخت د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې استازی توماس نېکولسن چې د افغان سولې په تړاو له پاکستاني چارواکو سره د خبرو لپاره اسلام اباد ته تللی، وايي چې په دوحه کې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ په ټپه ولاړې خبرې باید د دواړو لوریو د اساسي وړاندیزونو په منلو سره بېرته پیل او پر مخ لاړې شي. هغه دغه راز د خبرو له لارې د افغان کشالې پر پای ته رسېدو او د تلپاتې اوربند پر رامنځته کېدو ټینګار کړی دی. د ویلو ده چې څو ورځې وړاندې په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو دواړو لوریو د یوې ناستې په ترڅ کې د مذاکراتو پر چټکتیا هوکړه کړې وه، خو شاوخوا د یوې اونۍ په تېرېدو یې هېڅ کومه بله ناسته نه ده کړې.

زه د انسانانو تر منځ د مشترکاتو د لټون لپاره د هڅو پر ضرورت باور لرم. مسلمان راته ورور ښکاري، خو له غیر مسلم سره د انسانیت او ګډو ګټو پر بنسټ تعامل او معامله د ژوند اړتیا ګڼم. د انساني مرستو پر اغېزمنتوب او ارزښت باندې هم پوهېږم، خو هغه مهال پر پردیو باندې حساب نه کوم چې خبره زمونږ د خپل کور جوړولو ته راورسیږي. هر څوک خپل کور جوړوي او هر شخص د خپل کور او هیواد د جوړولو دنده پر غاړه لري.

د اوږدو جګړو، مهاجرتونو، د فرصتونو او د ملي مشرتابه نشتون، د چارواکو فساد، د هیواد په سرچینو ناتار او د مرستو په نوم د غربي نړۍ له سپکاوي ډک چلن زمونږ ولس په خپل ځان خپل حکومت او خپلو مشرانو باندې د اړتیا پر مهال د حساب کولو پرځای پردیو خیراتونو ته په سترګې نیولو معتاد وګرزول. دلته هر څوک داسې فکر کوي چې کوم پردی به راځي، مونږ ته به هیواد جوړوي او دغه مو ورباندې حق دی. نه نه، داسې نه ده. مونږ به خپل کورونه په خپله جوړوو او په خپله به پرېکړه کوو چې کور څه ډول جوړ کړو. که مونږ خپل کور ورانوو، نو پردي به یې ولې راته جوړوي؟

شل کاله وړاندې دلته د درېیم ځل لپاره پردي وسلهوال ځواکونه راغلل. دا داسې پردي وو چې د پیسو په زور او نورو اقتصادي وړتیاوو په مټ پر نړۍ حکومت کوي. لا یې د طلسم ماتولو او رقابت لپاره څوک نه دي پیدا شوي. مونږ اورېدلې وه چې په لوېدیځ کې دومره عدالت شته چې له حیوان سره په ظلم کولو باندې تیري کوونکي ته سزا ورکول کېږي، خو دلته مو ولیدل چې همدغه د عدالت او بشري حقونو مخکښان زمونږ په ځورولو، تنګولو، ربړولو او وژلو باندې نه مړېدل. کیدای شي

# د کابل په لوېدیځ کې د وروستیو بریدونو موخې څه دي؟

لیکنه: عبدالوحید وحید

لامل یې دا وي چې مونږ ورته پردي یو او په غرب کې حیوانات یې خپل دي. بله دا چې مونږ خپله هم یو بل وژنو، نو هغوی به هم راباندې د وژلو چل زده کاوه.

مونږ باید هیر نه کړو چې د ناټو ځواکونه زمونږ د هیواد او ټولنې جوړولو ته نه؛ بلکې د خپلو هیوادونو د خوندیتوب لپاره راغلي وو. غوښتل یې خپل دښمن د هغوی خاورې ته له ورتلو وړاندې دلته ووژني. هغوی ته د هر هغه چا د وژلو اجازه وه، چې ورته دښمن ښکارېده.

له بده مرغه چې اوس زمونږ په هیواد کې پردي که دښمن وي، نو راته نرمه خندا، د هغوی احترام او د ادب په چوکاټ کې ورسره خبره کول، د لوړ تمدن او تهذیب نښه ګڼل کېږي او خپلو ته له قهره ربړدېدل، سخته خبره کول، که خبره یې نه منله، نوورباندې وار کول د شهامت غیرت او شجاعت نښې ګڼو. په دوه اړخیز چلن کې دغه ډول تضاد زمونږ د بدبختۍ لاملونه دي.

د افغانانو هغه ځانګړتیاوې، هغه د جرګو مرکو پرېکړو، ناغو او مشورو سپېڅلي دودونه چې له نورو تمدنونو څخه د افغانانو د امتیاز نښې ګڼل کېدې، د تېرو څو لسیزو جګړو په دوران کې د خپلو پردیپالو مشرانو لخوا په ټولیېزه توګه له منځه یوړل شول.

پخوا به که د قومونو، کلیو او سیمې د خلکو تر منځ سخته جګړه ونښته، یوه تورسرې ښځه به د دواړو خواو تر منځ ودرېده. پلو (د ټکري یوه څنډه) به یې ونیوه. کوم پیر سید او یا بل روحاني شخصیت به منځته راغی. غږ به یې وکړ چې سنګرونه خالي کړئ. دواړو خواو به سنګرونه خالي کړل. تیره به کېښودل شوه. د پرېکړې تر اعلان پورې به چا خبره هم نشوای کولای. ښځه، ماشوم، سپین ږیری حتی که سخت دښمن سره به ښځه روانه وه، نو د ښځې د احترام لپاره دښمن هم چا نه واژه. له وژل کیدو وروسته به د دښمن په جسد څادر اچول کیده چې مرغان له مړي څخه سترګې ونه باسي. که به کوم دښمن په پورتنیو مواردو باندې عمل ونه کړ، سخت بې غیرته بلل کېده او د سولې په مهال به یې پور ډېر لوړ و.

سولې ته د کبرجن او یا زورور دښمن رضا کول به د هغه کور ته د قران کریم په وړلو، له بې پرې مشرانو سره د عذر لپاره د ښځو، یا د کوم منل شوي روحاني شخصیت په بېولو او یا هم په ناڅاپي توګه د مطلق ناخبرۍ په حال دښمن ته د تورسرې د ټکري د پیڅکې په غوټه کولو اسانه کیدله.

اوس د تیرو څلورو لسیزو په دوران کې هغه دودونه عمداً له منځه لاړل او ځای یې د ځنګل قانون ونیو. نه په ښځو صرفه کیږي، نه ماشومان خوندي دي، نه سپین ږیري مصئونیت لري، نه هم نور سپېڅلي دودونه را پاتې شول. تعجب ده نیول شوی دښمن په ډېره بې رحمانه توګه وژنو او ویډیو یې خپروو. اخر له مونږ څخه څه جوړ شول؟

حکومت او حکومت پلوي سیاستوال مو تر هغو پورې پردي خپل محسنان ګڼي چې په افغانستان کې د واشنګټن د دفاع خبره کول ویاړ ګڼي او په واک کې د پاتې کېدو د حمایت په برخه کې ورته عذرونه او زارۍ کوي. د تېرو شلو کلونو د لاسته راوړنو د خوندیتوب په بانه امریکا ته د پاتې کېدو او یا هم په بله اصطلاح د مسوولانه وتلو مشورې ورکوي.

زمونږ د نیمګړتیاوو وروستۍ څرګنده بېلګه دا ده چې طالبان له امریکا سره په اتلسو میاشتو خبرو کې نهایي هوکړې ته ورسیدل؛ خو له خپلو وروڼو سره دا دي تقریباً اتلسو میاشتو کې لا تر اوسه هم مذاکرات نه دي پیل شوي. حکومتي لوری تر هرچا زیاته ستونزه له طالبانو سره لري او طالبانو جګړو ته زور ورکړی او ارګ ته د ننوتلو سرټمبه توب ته یې ملاتړلې ده.

خلاصه دا ده چې د خلیلزاد په مشرۍ له طالبانو سره د مذاکراتو په درشل کې له لیک شویو بېځایه ژمنو رانیولې د امریکا د لوړپوړو چارواکو تر متزلزلو څرګندونو، د کابل د هوایي ډګر د ساتلو تر مسئلې او په دې وروستیو کې د ناټو عمومي منشي تر اظهاراتو پورې چې د افغانستان د راتلونکي په تړاو ډاډه نه دی، داسې ښکاري چې امریکا یوازې د خپل ولس د غولولو لپاره داسې څرګندونې کوي چې له حقایقو سره سمون نه خوري. مونږ خپله سره وژنو او خپله خپل هېواد ورانوو. د سولې لپاره په قېمت نه جوړیږو. د یو بل وژل په ویاړلې لهجه اعلانوو. د سولې لپاره غونډې جوړولای شو، شعارونه ورکولای شو، خبرې کولای شو، خو قرباني نه ورکوو. ولسمشر د هوا په نیلي سپور دی. د ځمکې په مخ په خورا تیزۍ سره رامنځته کیدونکي بدلونونه نه ویني. هره ورځ د څو ولسوالیو د سقوط خبرونه خپرېږي، خو نوموړی طالبانو ته مخاطب کېږي وایي چې: که سوله ونه کړي سخت به وځپل شي او حکومت د هیڅ ډول نوښت په فکر کې نه دی.

طالبان کاذب غرور نیولي دي. فکر کوي چې په جګړه ارګ ته رسیدلی شي، خو دومره دقیقه محاسبه نشي کولای چې د ارګ نیول، د نظام پاشل او حکومت کول توپیرونه لري. درېیم قوت هم له لاسته راغلي فرصت څخه په ګټه اخیستنې وارخطایي جوړولای او په نظام کې ګډوډي جوړولای شی، چې پړه به یې تر ډېره حده د طالبانو په غاړه وي او زیان به یې ټول هېواد ته رسیږي.

هیڅ پردی زمونږ د هیواد جوړولو ته نه دی راغلی او نه هم څوک مونږ ته هیواد جوړوي. اوس دار او مدار، تعامل او معاملې جوړول او رغول، راکړه او ورکړه، مرسته او پور د دوه اړخیزو ګټو په چوکاټ کې کیږي. مونږ درنې قیمتي ډېرې زیرمې، جیوپولیتیک او جیواکانومیک امکانات لرو، چې د دوه اړخیزو ګټو پر بنسټ په اقتصادي- علمي او تخنیکي برخو کې د نړۍ له خورا بډایه هېوادونو سره معاملې وکړو، په هسکه غاړه د عزت او وقار ژوند وکړو او خیرات غوښتل پرېږدو. البته دا هر څه هغه وخت ممکن کیږي چې مونږ لکه د پخوا په شان په خپلمنځي جګړو کې د بوختیاوو پرځای خپلو ستونزو ته په خپله د حللارې پیدا کړو، له مخالف ورور سره مشترکات ولټوو، له جګړو څخه سوله مقدسه وګڼو، له نړیوالو او خپلو وروڼو سره په سوله کې د سولې، همغږۍ او همکارۍ په فضا کې د ژوند کولو لارې چارې ولټوو.

# د افغان پلاوي له حضور پرته د ناټو سرمشریزه ؛

## ستولټنبرګ: د نظامي حضور له پای ته رسېدو وروسته هم له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکوو




له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو له وتلو وروسته د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر د امنیت د خوندیتوب او دغه راز د افغان ځواکونو د روزنې په تړاو اندېښنې مخ پر ډېرېدو دي. د ناټو مشرانو د نورو مهمو امنیتي مسایلو ترڅنګ په افغانستان کې د خپل نظامي حضور د پای ته رسولو او دغه راز د یاد هېواد د امنیتي وضعیت په تړاو هم خبرې وکړې.

که څه هم د ناټو دې سرمشریزې ته د افغانستان په استازولۍ څوک نه وو ور بلل شوي، خو یاد سازمان په افغانستان کې د خپل نظامي حضور له پای ته رسولو وروسته هم له دغه هېواد سره د مالي همکاریو ډاډ ورکړ.

د ناټو عمومي منشي ینس ستولټنبرګ د یاد سازمان دې سرمشریزې غونډې ته د خبرو پرمهال وویل چې دوی له خپلو متحدینو سره پر خبرو بوخت دي، ترڅو په افغانستان کې د خپل نظامي حضور له پای ته رسولو وروسته هم وکولي شي چې د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر امنیت خوندي کړي او دغه راز له یاد هېواد څخه بهر د افغان ځواکونو د روزنې او سلا مشورې پروسه پرمخ بوځي.

نوموړي وویل: «په افغانستان کې د نظامي حضور له پای ته رسولو وروسته موږ له دغه هېواد سره مالي مرستو ته دوام ورکوو، دغه راز موږ له خپلو متحدینو، امریکا او ترکیې سره په ګډه کار کوو، ترڅو د کابل نړیوال هوایي ډګر امنیت خوندي کړو، په افغانستان کې د ډیپلوماټیک حضور په موخه دا زموږ او د ټولې نړیوالې ټولنې لپاره اړینه ده، ترڅو هلته خوندي او فعال نړیوال هوایي ډګر ولرو».

په ورته مهال د امریکا ولسمشر جوبایډن هم دې سرمشریزې ته د وینا پر مهال ډاډ ورکړ، چې په افغانستان کې به د متحده ایالتونو له نظامي حضور وروسته، امریکا له یاد هېواد سره خپلو مالي همکاریو او دغه راز د افغان ځواکونو د روزنې بهیر ته دوام ورکوي.

بایډن زیاته کړه: «زموږ ځواکونه بېرته خپل کور ته راستنیږي، خو په افغانستان خپل قوي ډیپلوماټیک حضور ته دوام ورکوو، له افغانانو سره به په اقتصادي او بشري برخو کې زموږ مرستې او دغه راز د افغان ځواکونو د رزونې ماموریت دوام وکړي، موږ په دې برخه کې خپلو متحدینو ته هم هرکلی وایو، خو ډاډ ورکوو چې افغانستان به بیا د ترهګرو په خوندي پټنځای نه بدلیږي».

بلخوا د ملکي هوایي چلند ادارې ویاند نعیم صالحي بیا وایي چې دوی د بهرنیو ځواکونو له حضور او مستقیم ملاتړ پرته هم پوره چمتووالی لري ترڅو د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر ټولې هغه چارې په عادي ډول پرمخ بوځي، چې د دوی اړوند دي. د افغانستان د ملي امنیت شورا هم ډاډ ورکوي چې د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به د هېواد هوایي ډګرونه د نړیوالو په ملاتړ فعال وي او دغه راز به د افغان ځواکونو د روزنې او سلا مشورې پروسه هم دوام کوي.

خو عام افغانان بیا نیوکه کوي، چې د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته نړیوال ټولنه د افغانستان د امنیتي وضعیت په اړه له مسوولیت ځان خلاصوي او یوازې د خپلو وګړو او سفارتونو د خوندیتوب په موخه حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر پر خوندیتوب ټینګار کوي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره جوخت د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر د امنیت په تړاو اندېښنې ډېرې شوي دي. که څه هم ترکیې د دغه هوایي ډګر د مدیریت او امنیت د تامین مسوولیت ته ټېر وهلی، خو طالبانو بیا له دغه کار سره کلک مخالفت ښودلی دی.


## د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسی پیښلړ RAW,ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړن: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه

### د اکهنډ بهارت (ستر هند) کنفدراسیون دکتورین




پر دې باید بحث وشي، چې د دغه کار امکان او احتمال باید له احتماله لرې ونه ګڼل شي. د لویدیځ جرمني خلکو ته د دوی په ژوند کې د ختیځ او لویدیځ جرمني د بېرته یو ځای کېدو احتمال ناممکن ښکارېده.

دا کټ مټ هماغسې ده، چې زه اوس د یوه متحد او خپلواک کشمیر په اړه خبرې کوم. پوهېږم، چې دا په دواړو هېوادونو او په ځانګړې توګه هند کې یوه نامحبوبه مسئله او دا راز ستره سیاسي او له احساساتو ډکه موضوع ده. پاکستان له دې پرته ۷۰ کاله ژوند کړی، خو هند یې نشي کولی، خو څنګه به قناعت ورکړې؟ ما د امان الله خان خبره وکړه. په دې خواشینی یم، چې د ازادۍ په اړه مو د هغه افکارو ته پوره وخت ورنه کړ. اوس زما ارزونه دا ده، چې د دواړو خواوو او په ځانګړې توګه د پاکستان د اړخ اکثریت یا ګڼ کشمیریان به وایي: «پاکستانه ستاسې فکر څه دی؟ له تاسې دواړو نور ماړه شوي یوو؛ دواړه ساده یاست، موږ خپلواکي غواړو!» خو دا کار امکان نه لري. که دا احساس موجود وي، نو ولې جګړه پیزه لوبه وشي. راځئ په دې هم فکر وکړو، چې که ازاد کشمیر موجود وي، نو د چا په خوا به درېږي، د هند که د پاکستان؟ که د دواړو ترمنځ به راغورېږي. له تېرو اوویا کلونو راهیسې دوی په هند کې دي. ښایي ووایي، چې له هند سره مو ډېرې ستونزې ګاللې دي، راځئ وګورو پاکستان سره څنګه وخت تېرولی شو.

خو که دا د نړیوالې توطیې په مرکز بدل شي؟ پر دغو ټولو مسایلو باید بحث وشي. کله چې بحث او مذاکرات پیل شي دغه ټولې پوښتنې او نظریات به ورسره را وغوړېږي. یوه ورځ به راشي، چې نه به اسلاماباد او نه نوی ډېلی د دغه حقیقت پر وړاندې مقاومت وکړای شي.

دولت: خو د اکهنډ بهارت په اړه زما نظر بل ډول دی. د ده وړاندیزونه هم منم. د دواړو پنجابونو ترمنځ اتحاد یا فدراسیون، آیا دا تصور کولای شئ؟ مهاراجا امارېندر سېنګ له لاهوره واک چلاوه؟ هغه د یوه پوځي په توګه په دې خواشینی و، چې هند ولې په ٦۵م کال کې لاهور ونه نیوه. نن به هغه د لاهور د نیول کېدو لپاره نور احساساتي او عاطفي عوامل درلودل.

دورانی: د جناح خوبونه پوره نه شول، خو ویې ویل؛ که د معاملې پایله همدا وي، نو راځئ وبه یې منو. نو د ستر هند والا به هم اوس وایي، چې موږ داسې څه نه غوښتل، خو اوس چې شوي، نو راځئ قبول یې کړو*. دا کار له امکانه لرې هم نه دی.

ما خپله د همدغه لېونتوب په دوره کې خپل ځینې مقابل هندیان ننګولي، چې پاکستان د تجزیې بېرته راګرځولو او موږ سره یو ځای کېدو ته چمتو دي او په دغه کار سره له دننه هند د نابودۍ لور ته بیایوو. هغوی به ویل د ستر هند له دکتورین څخه یې مطلب دا کار نه دی. دوه کسان ښایي ورته نظر ونه لري. په هر صورت، معمول عقلانیت دا نه دی، چې ته هر هغه څه ته ورسېږې، چې غواړې یې.

په هر حال، د اکهنډ بهارت په اړه د دوی نظر څه دی؟

سېنها: اکهنډ بهارت له ایران څخه تر اندونیزیا غځېدلی دی.

دولت: یو نوی هندي خلافت.

دورانی: بېچاره داعش د خراسان د خلاف خوبونه ویني، خو هغه ته نه رسېږي. تاسې یې هم غواړئ او تمه لرئ چې دې هیلې ته به ورسېږئ. سوریه او عراق هم.

دولت: په دې ډول موضوعاتو ملګرو ملتونو کې بحث کېږي، چې یوه په کې بلاخره وویل، چې د سرحداتو د بدلون ملاتړ باید ونشي.

ښه خبره دا ده، چې مشرف او ډاکتر منموهن سېنګ په دا راز مسایلو بحث کړی دی. ښایي مشرف به نور دلایل درلودل، خو ویې ویل چې اوس د سرحداتو تغیر ناممکن دی. ډاکتر منموهن سېنګ هم ورسره ومنله. دورانی: د هغوی د بحث د محتوا په اړه اوس هم بحثونه کېږي، خو په حقیقت کې د تاریخ په اوږدو کې د سرحداتو د تنظیم نظریه شته ده. همدا درې کاله وړاندې د اوکراین داخلي پولې بدلې شوې، چې کریمیا ترې بهر پاتې شوه. هېڅوک نه پوهېږي، چې په نږدې ختیځ کې به پولې چیرته وي. بنګله دېش له یاده مه وباسئ. د سیکیم نړیوالې پولې له منځه ولاړې. که ادعا وکړو، چې دې کار ته اجازه نه ورکوو، دا معقوله نه ده. سرحدونه بدلېږي. **دوام لري...**

# ستاسې ماشوم هم بریالی کېدای شي


◀ اکسوس کتابپلورنځی

د ماشومانو د بریا یو مهم راز دا دی چې مور او پلار د خپلو ماشومانو پر ځان د باورۍ حس پیدا کولو کې ډېر زیات مهم رول لوبوي. له ماشومانو سره په نرمه او مهربانه لهجه خبرې وکړئ. د خپل ماشوم احساساتو او نظرونو ته ارزښت ورکړئ. کله چې د خپل ماشوم خوشحالیو او خپګان ته نه متوجې کیږی او کوم غبرګون نه ښیی، د هغه احساسات جدي نه نیسی او د هغه په اړه چنداني توجه نه کوی؛ بیا په راتلونکي کې له خپلو ماشومانو د بریا هېڅ تمه مه کوئ. ځکه تاسې یې ان د ژوند په لومړیو کې روحیه، جرئت، ذهن او غوښتنې محدود کړي دي. کوښښ وکړئ چې له دې او دېته ورته کړنو ځان وساتئ.

خپل ماشوم ته احترام ولرئ، په دې مانا چې خپل ماشوم ته مو ارزښت ورکړئ او هغه ته په ستایل شوو الفاظو غږ وکړئ. هیڅکله هم د دې کوشش مه کوئ چې ماشوم مو ورټې او پرې ملنډې ووهی. هېچا ته هم د دې اجازه مه ورکوئ چې ماشوم مو ورټي او یا هم پرې ملنډې ووهي، حتا داسې جملې چې(ته لا ماشوم یې) هم کولای شي ستاسې د ماشوم د رټلو سبب وګرځي. د ماشوم مو له حده ډېر مه ملاتړي کیږئ، که مو د ماشوم له حده زیات ملاتړي شی، شاید داسې احساس وکړي چې دی ډېر کمزوری دی، هڅه وکړئ چې د هغه هر څه په هغه پورې وتړئ.

د دغه کتاب لیکوال وایي، ماشوم مو له نورو سره مه پرتله کوئ. حتی ماشومان مو په خپل منځ کې هم مه پرتله کوئ، ځکه دا کار د دې لامل کیږي، چې ماشومان مو پر ځان باور له لاسه ورکړي. د ماشوم خبرو ته مو په غور سره توجو وکړئ او د هغه پوښتنې ځواب کړئ، دا کار دوی ته د ځان ارزښت ډېروي. له فزیکي تهدید او سزا ورکولو څخه ډډه وکړئ، په سزا ورکولو، وهلو، تهدیدولو او نورې لارې د دې سبب ګرځي چې ستاسو ماشوم مو په خپل ځان باور له لاسه ورکړي او همدارنګه هېڅکله مو ماشوم په سپي، بلا او داسې نورو حیواناتو او څیزونو مه ډاروئ.

هڅول، ستاینه او انعام ورکول هیڅکله هم له یاده مه باسئ، هڅه وکړئ کله مو چې ماشوم یو ښه کار تر سره کړي، هغه وستایئ او بیا یې هم د داسې کار لپاره وهڅوئ او که کولای شی هغه ته انعام ورکړئ.




له ډېر نصیحت او لارې ښودلو نه ډډه وکړئ او هیڅکله هم خپل نظرونه په خپلو ماشومانو باندې مه تحمیلوئ، ځکه چې دا کار مو د ماشوم په ځان باور کموي.

که دا او دېته ورته نورې لارې چې په دغه کتاب کې یې په تفصیل سره یادونه شوې ده، عملي کړئ، پرته له شکه چې ستاسې ماشومان به بریالي او یو ښه راتلونکی به ولري.

مینه‌وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال/ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | You are a Badass at Making Money | Jen Sincero | ۲۳۰؋ |
| ۲ | Two Can Keep A Secret | Karen M. Mc Manus | ۳۰۰؋ |
| ۳ | مبانی سازمان و مدیریت | خلیل الرحمن سروری | ۳۳۰؋ |
| ۴ | هایدرولیک انجنیري | محمد انور صافی | ۴۵۰؋ |
| ۵ | رسم تخنیک عمومی | محمد سعید کاکړ | ۳۵۰؋ |
| ٦ | د تدریس عمومي مېتودونه | محمد اسحاق شهیدزوی | ۲۵۰؋ |
| ۷ | اور په افغانستان کې | ریه تالي ستیورات/عبدالحسیب حکمتي | ۳۰۰؋ |
| ۸ | اساسات اناتومی | دیپارتمنت اناتومی پوهنتون کابل | ۳۸۰؋ |
| ۹ | د نړیوالو اړیکو تاریخ( له ۱۹۴۵ ز کال څخه تر ۲۰۰۸ ز کال پورې) | موریس واعیس/حکیم الدین منځنی | ۲۰۰؋ |
| ۱۰ | اقلیم پوهنه | عزت الله سائل | ۱۸۰؋ |
| ۱۱ | پتالوژی جهازات | امین همکار | ۲۸۰؋ |
| ۱۲ | فزیولوژی طبی | محمد ناصر فروتن | ۳۵۰؋ |
| ۱۳ | نړیوال اقتصاد | حمدالله نظامي | ۳۰۰؋ |
| ۱۴ | لیکوالي | محمد آقا شېرزاد | ۲۳۰؋ |
| ۱۵ | قران او علم النفس | محمد عثمان نجاتي | ۳۰۰؋ |
| ۱٦ | نړیوال سازمانونه | نبي بصرت | ۲۳۰؋ |
| ۱۷ | معاصر حقوقي سیستمونه (لومړی ټوک) | محمد ایمل حقمل | ۲۰۰؋ |
| ۱۸ | معاصر حقوقي سیستمونه (دویم ټوک) | محمد ایمل حقمل | ۲۳۰؋ |
| ۱۹ | اساسات امور مالی عامه | عبدالقیوم عارف | ۱۷۰؋ |
| ۲۰ | فارمکولوژی سریری و تداوی دوایی | احمد فرید دانش | ۳۲۰؋ |
| ۲۱ | جزا شناسی | حفیظ الله دانش | ۲۳۰؋ |
| ۲۲ | مبانی امور مالی و بودجه | داوود صالحی | ۲۰۰؋ |
| ۲۳ | اقتصاد سلامت | مجید صباغ کرمانی | ۲۳۰؋ |
| ۲۴ | احصایه//۱۳۹۹/سعید | محمد انور غوری/ مرسل حلیم | ۱۵۰؋ |
| ۲۵ | مدیریت منابع انسانی | آرین قلی پور | ۳۵۰؋ |
| ۲٦ | محاسبه دولتی | میر محمد فاروق حیدری | ۱۸۰؋ |
| ۲۷ | Every Thing | Nicola Yoon | ۲۵۰؋ |
| ۲۸ | Hippie | paulo coelho | ۱۷۰؋ |
| ۲۹ | د مطالعې ارزښت | شعیب عادل | ۴۰؋ |
| ۳۰ | ټوله ریاضي په څو فورمولونو کې | آلکس اسویرین/نورالله سلطان زوی او شفیق الله مشفق | ۱۷۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۷۰ |
| € | ۹٤,٦٥ |
| Rp. | ٤۹٦ |
| ₹ | ۱۰٦٥ |
| ¥ | ۱۱,٦۰ |
| £ | ۱۰۹,۱۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# ځنگه کولای شو خپله حافظه قوي کړو؟

ژباړه: احسان الله کریمي



لیکل د حافظې د قوت لپاره تر ټولو گټوره لاره ثابته شوې ده. څېړونکي وايي، هغوی چې په قلم د لیکلو عادت لري او په لاس لیکل کوي، حافظه یې قوي کیږي او په ورځني ژوند کې ښه مخ ته ځي. کله چې موږ یو څه په خپل قلم لیکو، د ژبې او زهن تر منځ یو قوي تړاو رامنځ ته کیږي او له موږ څخه لیکلې څیزونه نه هېرېږي. دا چاره په اوږدمهال کې زموږ حافظه قوي کوي.

څېړنې ښیي چې زموږ ذهن په یوه وخت کې په زیاتو کارونو د تمرکز قابلیت نه لري. که موږ چیرته په یوه وخت کې ډېر کارونه تر سره کوو، نو پر یوه هم تمرکز نه شو کولای. ښه خبره دا ده، چې په یوه وخت کې ټوله توجه او پاملرنه هماغه یوه کار ته راټوله شي.

که غواړی چې یو څه د اوږدمهال لپاره په ذهن کې وساتی او د حافظې د قوي والي لپاره کار وکړی، نو شته مالومات په اړوندو گروپونو او ډلو وویشئ. د بېلگې په ډول، غواړی د خپل بانک اکونټ او یا هم د چا د ټلیفون نمبر په یاد ولری، نو هغه په څو برخو وویشئ، ویې لیکئ؛ په خپله مو په ذهن کې پاتې کیږي.

داسې کسان شته چې زیاته مطالعه کوي او په ځان باندې نهایت زیات فشار راولي؛ خو ښه پایله نه ورڅخه اخلي، په داسې حال کې چې ځینې نور کسان بیا پرته له دې چې وخت یې زیات ضایع شي او یا هم په ځان باندې زیات فشار راولي، خپلې موخې ته رسیږي او له مطالعې کولو څخه چې یې څه هدف وي، په ډېره اسانۍ یې لاسته راوړي او یادوي یې.

د مطالعې کولو لپاره تر کمیت کیفیت ډېر مهم دی او هر محصل یا زده کونکی باید د مطالعې کولو په لارو چارو باندې بلد وي، څو په ازموینه کې پرته له زیات فشار څخه ښه پایله لاسته راوړي او په ازموینه کې ښې نمرې واخلي.

په دې مقاله کې د داسې لارو چارو یادونه شوې ده، چې په مټ یې کولای شی د حافظې د قوي کولو او تر ځنگ یې د مطالعې کولو او پرته له زیات فشار څخه د یوخه یادولو کې ترې گټه واخلئ.

**۱- له ازموینې مخکې پلې وگرځئ**

څېړنو ښودلې ده چې ورزش کول د حافظې په قوي کولو کې مهم رول لري او مغز په فعالیت باندې راولي. د دایلینوی پوهنتون ښوونکي (چار هیلمین) د خپلو څېړونو په ترڅ کې ښودلې ده، چې له ازموینې څخه مخکې ۲۰ دقیقې ورزش کول کولای شي چې له تاسو سره په ازموینه کې مرسته وکړي.

**۲- مطالعه په لوړ غږ سره وکړئ**

سمه ده چې په دې کار سره به لږ د لیوني په شان ښکاره شی، خو دا کار حتمن یو ځل وکړئ، کله چې مطالب په لوړغږ سره مطالعه کوی، ذهن کې مو پاتې کیږي، خو په یاد ولرئ چې هېڅکله دا چاره په گڼه گوڼه کې مه تر سره کوئ، ځای مو باید ارامه وي.

د دې پر ځای چې څو څو ځله یو کتاب مطالعه کړی، یو ځل یې په لوړ غږ سره په ارام ځای کې وواياست، خپله به درته معلومه شي.

**۳- ځان ته مو ډالۍ ورکړئ**

ځان ته مو له مطالعې کولو وروسته ډالۍ ورکړئ او له ځان سره دا وواياست، چې د تېرې ورځې په پرتله مو نن مطالعه ډېره گټوره وه.

ډېری خلک په خپل کار کې دومره بوخت وي، چې ان خپله ډوډۍ او چای هم په خپل میز خوري او سترگې له خپل کار څخه بل لوري ته نه اړوي. که تاسې هم دا عادت لری، نو دا کار مه کوئ. له خپل کار څخه د یو څه وخت لپاره دمه واخلئ. حتی پنځه دقیقې دمه هم ستاسې ذهني ځواک غښتلی قوي او د مالوماتو په یاد راوړولو کې مرسته درسره کوي.

**۴- خپله زده کړه نورو ته وښیئ**

که بل څوک درسره نه وي، په یو تنها ځای کې کېنئ او له ځان سره داسې فکر وکړئ، چې ډېر زده کوونکي ستاسو خبرو ته غوږ دي او هغه څه چې مو یاد کړي، هغوی ته یې وواياست. دا چاره د مالوماتو د ډېر وخت لپاره په یاد ساتلو کې مرسته کوي.

**۵- نقاشي وکړئ**

یوه بله تر ټولو غوره لاره دا ده چې نقاشي(رسامي) وکړئ، په نقاشۍ سره ستاسو حافظه په حرکت کې راځي، په دې وخت کې هم کولای شی چې د ازموینو لپاره مو چمتووالی ونیسئ.

**٦- ټولنیزې رسنۍ د مطالعې په وخت کې مه کاروئ**

ممکن داسې څه په مخ درشي چې په هغه سره مو روان حالت گډوډ شي، په دې وخت چې فکر مو گډوډ شو، بیا نه یوازې چې مطالعه نشی کولای، بلکې یادولی یې هم نشی.

**۷ - داسې فلمونه وگورئ چې د درس د موضوع اړوند مو وي**

داسې مستند فلم چې ستاسو د موضوع اړوند وي، وگورئ. دا فلم له تاسو سره ډېره مرسته کوي چې د خپلې ازموینې لپاره ښه تیاری ونیسي.

**۸- کله چې مطالعه کوی باید تر ځنگ یې ارام هم وکړئ**

کله چې مو مغز کار کوي، اړینه ده چې په منظم ډول سره ارام وکړئ څو لا ډېر څه په ذهن کې ځای پرځای کړی. په منظمه توگه باید له ۴۵ دقیقو څخه تر ۵۰ دقیقو پوره یوځه ارام وکړئ او د یادولو ده که چېرته سستي وکړی او زیات وخت په درس ویلو او یا هم د یوځه په یادولو کې پاتې شی، بیا مو فکر خرابېږي چې دا وخت بیا نشی کولای څه یاد کړی.

**۹- د مطالعې کولو ځای مو بدل کړئ**

انسان داسې جوړ شوی دی چې یو څه سره ډېر ژر عادت کیږي. د بېلگې په توگه، په کتابتون کې مو یوه د خوښې وړ څوکۍ شته ده، خو کله چې د مطالعې ځای بدلوی، شاید په هغه ځای کې بل څوک هم وي او پر یوه کار اخته وي، چې له دې سره مو هم فکر گډوډېږي او بیا نه شی کولی چې په ښه ډول مطالعه وکړی.

پیاوړې او ښې ټولنیزې اړیکې هم حافظې او ذهن ته قوت ښښي. کوښښ وکړئ چې له خلکو سره ښه راشه درشه ولری او له هغوی سره ښه سلوک وکړئ. دا چاره تاسې ته ذهني سلامتیا او قوي حافظه در په برخه کوي.

# مسکو ته د خبرداریو په دوام؛

## بایډن: که ناوالني په زندان کې مړ شي، د روسیې او ټولې نړۍ اړیکې به سختې زیانمنې شي

د امریکا ولسمشر جوبایډن روسیې ته خبرداری ورکړی، که ناوالني په زنداني حالت کې مړ شي، د روسیې او ټولې نړۍ ترمنځ اړیکو ته به سخت زیان ورسوي. کله چې په بروکسل کې د ناټو په مرکزي دفتر کې د خبري کنفرانس پر مهال د امریکا له ولسمشر جو بایډنه د روسیې د حکومت د سرسخته منتقد الکسي ناوالني د احتمالي مړینې په اړه پوښتنه وشوه، نوموړي یې په ځواب کې وویل: «که ناوالني مړ شي، دا به له روسیې سره د امریکا او ټولې نړۍ اړیکو ته زیان ورسوي».

بایډن په خپلو خبرو کې زیاته کړه، چې که ناوالني مړ شي، دا به نور هم وښیي چې روسیه اساسي بشري حقونو ته درناوی نه لري او دا به یوه لویه غمیزه وي. دا په داسې حال کې ده چې تېرکال پر الکسي ناوالني د زهرو حمله شوې وه او د ده ملاتړو ویلي چې پوتین د دې حملې امر کړی و.



نوموړي دغه راز د روان کال په اپرېل میاشت کې د ۲۴ ورځو لپاره د نه خوړلو اعتصاب پیل کړ، خو اندېښنې زیاتې شوې چې دی به له لوږې مړ شي؛ ځکه ناوالني یو ځل ویلي وو، چې دی داسې ښکاري لکه یوازې هډوکي چې ورپاتې وي.

نوموړي دغه راز د اپرېل په ۲۳مه خپل اعتصاب پای ته ورساوه او تېره اونۍ د زندان له روغتونه بېرته په بند کې خپلې خونې ته انتقال کړای شو. وړمه ورځ د خبري کنفرانس پرمهال د امریکا له ولسمشر جوبایډنه له پوتین سره د جنیوا د جون د ۱٦ مې د سرمشریزې په اړه پوښتنه وشوه، خو بایډن یې په اړه مفصل ځواب ورنه کړ، خو نوموړي زیاته کړه چې له پوتین سره به د توافق برخې لټوي او په همدې حال کې به د امریکا او یاد هېواد د متحدینو پر وړاندې د روسیې د مخالفتونو په اړه خبرداری ورکړي.

بایډن زیاته کړه: «زه به ولسمشر پوتین ته روښانه کړم چې داسې موارد شته چې موږ پکې له یو بل سره همکاري کولای شو، که دی وغواړي او که ونه غواړي چې همکاري وکړي او د سایبري امنیت او نورو برخو په اړه داسې چلند وکړي، لکه پخوا چې یې کړی، موږ به هم ورته غبرگون ښیو.»

بایډن، پوتین یو هوښیار او وړ مخالف وباله، خو ویې ویل چې دی به د غونډې هر ډول پایله لومړی ارزوي بیا به ورباندې باور کوي. د هغه په خبره، د ناټو هېوادونو مشرانو هم ترې منته کړې چې له پوتین سره یې غونډه تنظیم کړه.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین

او حشمت الله نوري

**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

**چاپخونه:** وایگل چاپ

0202512626 / 0782989696

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۲۶مه | د ۲۰۲۱ د جون ۱٦مه | ۷۳۴مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۹ | ۳۳ | ۳۹ | ۳٤ | ٤۰ | ۲۲ |
| ۱۳ | ۲۱ | ۲۲ | ۲٤ | ۲۰ | ۱٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۴ | لمر ختل ۰۴:۴۰ | ماسپښین ۱۱:۵۴ | مازیګر ۰۴:۵۷ | ماښام ۰۷:۰۹ | ماخوستن ۰۸:۵۴

## نړۍ



# مسکو ته د خبرداریو په دوام؛

## بایډن: که ناوالني په زندان کې مړ شي، د روسیې او ټولې نړۍ اړیکې به سختې زیانمنې شي

۵

## راپورونه: په سومالیا کې د پوځ پر یوه مرکز په ځانمرګي برید کې له ۲۰ ډېر پوځیان وژل شوي



د راپورونو له مخې، په سومالیا کې د پوځ د روزنې یوه مرکز ځانمرګي بریدګر دننه شي چې درنه مرګ ژوبله یې اړولې ده. په دغه برید کې د مرګ ژوبلې په تړاو بېلابېل راپورونه خپاره شوي دي.

د سومالیا حکومت دوو حکومتي چارواکو رسنیو ته ویلي چې په دغه برید کې ۱۰ نوي جلب شوي عسکر وژل شوي او ګڼ نور ټپیان شوي دي. خو د یاد هېواد یو وکیل عبدالرزاق عمر پر خپل ټویټر لیکلي دي چې په دغه برید کې تر ۲۰ ډېر عسکر وژل شوي او لسګونه نور ټپیان شوي دي.

د سومالیا چارواکي دغه راز یاتوي چې دا برید په موګادیشو کې د نویو جلب شویو سرتېرو د روزنې په مرکز کې دننه شوی دی. دوی وایي چې بریدګر د پوځ جامې اغوستې وې او د روزنې پر مهال یې په ځان پورې تړلې بمونه چولي او درنه مرګ ژوبله یې اړولې ده.

د پوځ د روزنې یاد مرکز د سومالیا د یوه پخواني پوځي مشر جنرال عبدي کریم په نوم دی، چې په ۲۰۱۵ز کال کې په یوه هوټل کې د الشباب ډلې په برید کې ووژل شو. که څه که د دغه بریدو مسوولیت تر اوسه کومې ډلې نه دی منلی، خو تر دې وړاندې د دغه ډول بریدونو مسوولیت الشباب ډلې منلی دی.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر درې میلیونه او ۸۲۹زره او ۳۴۷ کسانو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر۱۷۷ میلیونه او ۱۵۵ زره او ۷۵۳ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۸۲۹زره او ۳۴۷ کسان مړه شوي او له ۱٦۱ میلیونو ډېر تړي ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۳۳۵زره او ۵۱۵ ته رسېدلي او ٦۱۵ زره او ۲۴۷ نور امریکایان تړې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۲۹ میلیونه او ٦۱۷ زره او ۵۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۷ میلیونه او ۴۵۴ زره او ۸٦۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۷۴۱ زره او ۳۵۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونه او ۳۳٦ زره او ۷۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

روسیه، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## عبدالله: واگذاری ولسوالی‌ها به طالبان پلان شده نیست



عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحه ملی، گفته است که واگذاری پی‌درپی ولسوالی‌ها از سوی نیروهای امنیتی به طالبان بخشی از برنامه منظم نیست و ادعاهایی مبنی بر این که گویا ولسوالی‌ها طبق یک برنامه به طالبان واگذار می‌شود، درست نیست.

رئیس شورای عالی مصالحه ملی در نشستی با شماری از جوانان که از سوی نهاد فریدریش ایبرت برگزار شد، گفته است که عوامل متعدد باعث می‌شود که نیروهای امنیتی ولسوالی‌ها و مناطق را رها کنند.


با این حال، او افزوده است: «با وجود این که سقوط پی‌هم ولسوالی‌ها، نگرانی‌هایی را در میان مردم ایجاد کرده است، اما مردم از نیروهای امنیتی خود حمایت می کنند. می‌دانیم که شرایط ناگوار است، اما مسوولیت همه ما است که بار سختی را بکشیم و از وضعیت موجود گذر کنیم.»

عبدالله عبدالله از جانب دیگر گفته است که جمهوری اسلامی افغانستان و جامعه جهانی هم نظرند که معضل فعلی افغانستان راه حل نظامی ندارد، اما طالبان تا هنوز هم قناعت نکرده‌اند.

این در حالیست که در جریان دو ماه گذشته بیش از ۲۰ ولسوالی به دست طالبان افتاده است. سقوط پی‌هم ولسوالی‌ها باعث نگرانی مردم شده و در عین حال شائبه این که ولسوالی‌ها به صورت «برنامه‌ریزی شده و مشکوک» به طالبان واگذار می‌شود، نیز وجود داشته است.

## ژونـــد

## د شیاومي د چټک چارجولو ټکنالوژي




چینایي کمپنۍ شیاومي خپل د چارج نوي ټکنالوژي معرفي کړه، چې ډېر کم وخت کې ځیرک موبایل ۱۰۰٪ چارجوي. د شیاومي کمپنۍ د چټک چارجولو دغه ټکنالوژي ۲۰۰ واټ هایپر چارج نومول شوې دی، چې یوازې ۳ دقیقو کې ۴۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ۵۰٪ او ۸ دقیقو کې یې ۱۰۰٪ چارجوي. له دې سربېره، شیاومي کمپنۍ له چټک وایرلېس چارج ټکنالوژۍ څخه هم پرده پورته کړه. دغه ټکنالوژي له ۱۲۰ واټ چارج څخه ملاتړ کوي او یوازې ۱۵ دقیقو کې ۴۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ۱۰۰٪ چارجوي.

د یادونې ده چې شیاومي کمپنۍ له دې وړاندې هم د چټک چارج ټکنالوژۍ معرفي کړې وې. دغې کمپنۍ په ۲۰۱۹ کال کې د ۱۰۰ واټ چټک چارج او له هغې وروسته ۲۰۲۰ کال کې د ۱۲۰ واټ چټک چارج ټکنالوژي معرفي کړه. تېر کال یې همدا راز ۸۰ واټ چټک وایرلېس چارج ټکنالوژي څخه هم پرده پورته کړه. د شیاومي کمپنۍ دغه ټکنالوژي د ځیرکو موبایلونو چارجولو په برخه کې ډېره اسانتیا رامنځته کوي.

## په ۵۱ دقیقو کې د کرونا تشخیص




برتانوي ساینسپوهانو د داسې الارم جوړولو ادعا کړې چې یوازې څو دقیقو کې په خونه کې شته خلکو کې کورونا وایرس تشخیصوي. په دې اړه د مېټرو ډاټ کو راپور کې راغلي چې په چت کې نښلېدونکی دغه الارم د لوګی الارم ته ورته ده. راپور کې همداراز راغلي چې دغه اوزار به مسافر وړونکو الوتکو، ټولګیو، دفترونو او نورو عامه ځایونو کې د وایرس د تشخیص په برخه کې مهم رول ولوبوي. دغه سېنسر کېمرج شایر فرم روبو ساینټفک له لوري جوړه شوي چې په پوټکي کې پیدا کېدونکو یا د ناروغ کس په تنفس کې شته کېمیاوي مواد تشخیص کوي. له دې وړاندې یوې څېړنې کې ویل شوي ول چې سپي دغه کېمیاوي مواد بوی کولو سره په کورونا وایرس اخته کسان تشخیص کوي. دغه اوزار په کره توګه دغه کېمیاوي مواد تشخیصوي او د خطر زنګ په توګه عمل کوي. دغه اوزار باندې د لندن سکول اف هایجین او ټروپېکل مېډېسن او ډرهم پوهنتون کې ازمایښت روان دی او لومړۍ پایلې یې مثبت دي.


کوچني او منځني سوداګریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کېږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank